# د قربانۍ د نېکمرغه عيد د مبارکۍ پيغام




موږ ټول اسلامي امت په ځانګړي ډول د افغانستان مسلمان ولس ته د زړه له کومي د قربانۍ د نېکمرغه عيد مبارکي وايو. الله سبحانه وتعالی دې زموږ او ستاسو د ذوالحجې د لومړۍ لسيزې طاعات، عبادات، حج او قرباني ټول په خپل دربار کې قبول کړي.

الله سبحانه وتعالی چې د ځمکې پر مخ انسان ته کومه موخه ټاکلې هغه ابتلا (آزموينه) ده، ترڅو انسان خپل ځان او نورو ته افشا او اخروي برخليک يې معلوم شي.

د قربانۍ نېکمرغه عيد د الله سبحانه وتعالی د فرمان پر وړاندې د سيدنا ابراهيم عليه السلام د ابتلا يوه بېلګه ده، ترڅو خپل يوازنی زوی او د زړه ټوټه اسماعيل عليه السلام قرباني کړي؛ چې په پايله کې ابراهيم عليه السلام د الله سبحانه وتعالی له دې ابتلا سرلوړی او بريالی راووت.

موږ اسلامي امت د سيدنا ابراهيم عليه السلام په څېر له خورا لويې ابتلا سره مخ يو؛ داسې ابتلا چې کفر پر موږ حاکم شوی او د پانګوالۍ او سيکولرېزم ارزښتونه، چې د حکومتولۍ او سياسي جوړښت په برخه کې د بشر د ژوند په چارو کې د خالق هر ډول مداخله ردوي، پر موږ واکمن دي. دا زموږ ابتلا ده چې د يوې سياسي ايډيولوژۍ په توګه د نبوت پر منهج د خلافت دولت په اډانه کې د اسلام د حاکميت لپاره د همت ملا وتړو او متې راونغاړو. دا خورا برخليک ټاکونکې ابتلا ده، چې زموږ اخروي او حتی دنيوي برخليک ټاکي. دلته پرېکړه زموږ ده، چې کومه لار غوره کړو؛ د کفر د حاکميت لار که د اسلام. د الله سبحانه وتعالی د دين د حاکميت لپاره د مبارزې د لارې ټاکنه به موږ د ابراهيم عليه السلام غوندې د الله سبحانه وتعالی په ابتلا کې کامياب او د حشر په ورځ به مو سرلوړي کړي. خو په دې چاره کې هر ډول ناکامي مو د دنيا د زيان او په آخرت کې د جهنم د اور لامل کېږي. انتخاب له موږ او تاسو سره دی، اې اسلامي امته!

**والسلام عليكم ورحمت الله وبركاته**